بسم الله الرحمن الرحیم

**د خبرونو سرټکي 1/12/2021**

- **د پاکستان پورونه تر اسمانه لوړ شول**
- **د ایران اټومي خبرې بیا پیلیږي**
- **د ترکیې اقتصادي بحران لاپسې ژور کېږي**

**بشپړ خبرونه:**

**د پاکستان پورونه تر اسمانه لوړ شول:**

د پاکستان مالیې او عایداتو وزارت په دې وروستیو کې د پاکستان پورونه بربنډ کړل. په یوه لیکلي ځواب کې دغه وزارت ومنله چې د پاکستان بهرني پورونه په ۲۰۱۷ م، کې له ۹۵ میلیارده ډالرو (کله چې د عمران خان ګوند PTI واک ته ورسید) نو د ۲۰۲۱م، د سپټمبرپه ۳۰مه، ۱۲۷میلیارده ډالرو ته پورته شول. دغه راز په دې وروستیو دریو کلونو او دریو میاشتو کې پورونه ۳۲میلیاردو ډالرو ته پورته شول! د تعجب وړ نه ده، چې لومړی وزیر عمران خان وایې: "لویه ستونزه" داده چې حکومت د هېواد چلولو لپاره کافي پیسې نه لري. هغه زیاته کړه چې بهرني پورونه او کم مالیاتي عاید د (ملي امنیت) په موضوع بدل شوي. دا په داسې حال کې ده، چې د PTI په دوره کې تورم دوه چنده لوړ شو. پاکستان به په ۲۰۲۳م، کې ټاکنې ترسره کړي او د PTI متحدین به په دې اقتصادي ناروین کې هغه یوازې پریږدي. داسې ښکاري چې د راتلونکي پاکستان پالیسي به د تېر په شان د پورونو لګول وي.

**د ایران اټومي خبرې بیا پیلیږي**

له شپږو میاشتو ځنډ وروسته، د نومبر په ۲۹مه، کمیسیون ناسته وکړه، ترڅو د ایران پر هسته یي پروګرام خبرې وکړي. خبرې اترې د ایران ملي ټاکنو پر مهال دربدلې وې، چې اوس د نړیوالو او سمیه ییزو اندېښنو په راپورته کېدو سره د ایران هسته یي پروګرام پر وړاندې، چې په ۲۰۱۵م، برجام کې رامنځ ته شوې وې، له سره پیلیږي. د ایران او امریکا ترمنځ ډېر اختلافات پاتې دي، چې خبرې اترې له ځنډ او ستونزو سره مخ کوي. وروسته د دوشنبې له ناستې څخه، د اروپایي اتحادیې استازي انریک مورا خوښ و او ویې ویل، چې د ایران استازولۍ په زغرده وویل، چې د برجام بیا راژوندي کېدو لپاره باید جدي کار وکړي. هغه وویل: «په راتلونکو اونیو کې د مهمو کارونو په اړه مثبت احساس لرم» مورا زیاته کړه چې د امریکا بندیزونه پر ایران باندې په ملکي وګړو ناوړه اغېزې

لري. هغه بنديزونو ته په اشارې سره وويل: د ايراني وګړو د ستونزو پای ته رسولو لپاره بايد بيړه وشي. مورا وويل ايراني چارواکو منلي چې د June مياشت کې به دربدلې خبرې اترې بيا پيلوي. هغه وويل: هغوی منلې چې د پاتې خبرو د دوام لپاره، لومړۍ شپږ دورې خبرې ښه بنسټ دی. د تهران نوی حکومت غواړي په پخوانيو شرطونو بياغور وکړي. هغوی منلې او د خبرو اترو په لومړيو کې يې جوړجاړی هم کړی دی.

**د ترکيې اقتصادي بحران لاپسې ژور کېږي:**

تېره اونۍ د ترکيې په بېلابېلو ښارونو کې لاريونونه پيل شول، دا په داسې حال کې ده چې ليره د يوه ډالر پر وړاندې ۱۳ ته راښکته شوه، چې دا نوی ريکارډ دی. په استانبول او عنقره کې لاريونوالو د عدالت او پراختيا حزب (AKP) د غړو او حکومت د استعفا غوښتنه وکړه او هغوی په انقره کې له پوليسو سره نښته وکړه. د ترکيې روپۍ له کلونو راهيسې په بحران کې ده، ځکه د ترکيې پورونه د ناخالص کورني توليد نيم برابر دي، ډېری پورونه په ډالرو دي. د COVID-19 په څپې کې د سهاپ کاو، چې ځای ناستی اقبال د مرکزي بانک رييس له ټاکلو سره د ترکيې ليره ترټولو ټيټې کچې ته راښکته شوه. اردوغان د مرکزي بانک کنټرول په خپل لاس کې راوستی، او دا بانک يې په سياسي بنسټ بدل کړی، ترڅو خپلې سياسي موخې پلي کړي. د هغه لنډمهالې او نامنظمې موخې اوس په پراخه اقتصاد بدلې شوي؛ خو اردوغان وايې چې له يو لړ نويو اقتصادي اصولو څخه پيروي کوي.